عبدالحسیب حکیم ۲۰۱۱/۱۰/۱۰

# افغانستان د زبر ځواکونو شطرنج

د اولریش لادورنر« Ulrich Ladurner» مرکه د شتاندرد. آت (derStandard.at) ورځپاڼې سره

اولریش لادورنر« Ulrich Ladurner» په کال ۱۹۶۲ د میران ښار دتیرول په جنوب کې زیږیدلی دئ. ده په سیاسی علومو او لرغونپوهنه کې د اتریش د إنسبروک په ښار کې زده کړه کړې ده.

اولریش لادورنر د ۱۹۹۹ کال څخه راپدیخوا دبهرني خبریال په توګه د دیځایت "Die Zeit,, اونیزې ته د عراق، افغانستان او پاکستان څخه رپوټونه ورکوي.

په کال ۲۰۱۰ کې دده یو کتاب « په کابل کې یوه شپه، تیر نآآشنا سفر» تر عنوان لاندې چاپ شو. دی د هامبورګ په ښار کې ژوند کوي.

خبریال اولریش لادورنر په خپله یوه مرکه کې د شتاندرد آت(derStandard.at) ورځپاڼې سره د افغانستان په راتلونکي او دمتحدینو د برید او په دې هیواد کې د پرمختګونو په هکله خبرې کړي. د شتاندرد. آت(derStandard.at) ورځپاڼه په نړیوالې کچې د ډیالوګ او ګډې همکارۍ (VIDC) په برخې کې فعالیت لري. ستاسې پاملرنه دې مرکې ته راړوم!

شتاندرد. آت : لس کاله مخکې امریکایي ځواکونو په افغانستان برید وکړ ترڅو ترهګري په ریښې کې له منځه ویسي. آیا افغانستان په حاضر محال کې خپل ځای یانې د ترهګرۍ ټینګ مرکز یو بل هیواد لکه پاکستان ته له لاسه ورکړی؟

لادورنر: د امریکې متحده ایالتو د یوه خاص مأموریت تر نامه لاندې پر افغانستان برید وکړ او هغه هم د القاعدې له منځه وړل ؤ. دا برید د کال ۲۰۰۱ د سپتمبر د یوولسم برید په ځواب کې ؤ، چې دوی تر یوه حده هم وتوانیدل چې القاعده په افغانستان کې وځپي. مونږ کولای شو ووایو چې دې جګړې د پام وړ اغیزې په پاکستان باندې کړې دي. پداسې حال کې چې د القاعدې شتون په افغانستان کې ناچیزه دئ، خو په پاکستان کې په زرګونو خلک دترهګریو بریدونو قربانی شوي دي.

شتاندرد. آت : ستاسو په آند افغانستان د لسو کلونو مخکې په پرتله ډاډمند شوی دئ؟

لادورنر: ددې پوښتنې ځواب آسانه ندئ، ځکه افغانستان له څو لسیزو راپدیخوا د زبر ځواکونو شطرنج ګرځیدلای دئ. دا هغه فاجعه ده چې دا هیواد ورسره مخامخ دئ. له ۱۹۷۸ / ۱۹۷۹ کلونو څخه راپدیخوا په دې هیواد کې جګړه روانه ده. سره له دې چې له دیرشمې لسیزې نه وروسته د یوې اوږدې مودې دپاره په دې هیواد کې یو پراخ ثبات حاکم ؤ، خو نن خلک دا هیواد د تروریزم، مخدره توکو او جګړې له مخې پیژني، خو زه باید دا څرګنده کړم چې دا ناخوالې افغانانو ته له بهر څخه راغلي دي، نه له دننه.

شتاندرد. آت : ولې افغانستان له څو لسیزو راپدیخوا یو مهم نقش لوبوي تر څو چې زبرځواکونه په دې هیواد برید وکړي، تاسو فکر نکوی چې د دې لامل به هغه طبیعي زیرمې وي چې په هندوکش کې پرتې دي؟

لادورنر: که په طبیعی زیرمو چې استخراج یې د امکاناتو د نشتوالي له کبله یو درونډ کار دئ، سترګې پټې کړو، نو بیا د اقتصادي ګټو په موخه دا هیواد هیڅ کوم ارزښت نلري.

افغانستان یو کلاسیکه بیلګه دهغو هیوادونو دپاره ده چې د خپل ځان څخه د دفاع توان په کې نشته. دغه نیمګړتیا یو بنیادی لامل دئ، چې بهرني ځواکونه په دې هیواد باندې یرغل کوي. دکشمیر پر سر کړکیچ د پاکستان او هند ترمنځ شخړه ، همداراز دامریکې او ایران تر منځ منازعه هم په افغانستان کې صورت مومي.

شتاندرد. آت : د بهرني ځواکونو محبوبیت په افغانستان کې څنګه دئ، افغانان دوی ته په کومو سترګو ګوري، د نیواکګرو یا د ژغورونکو په سترګو؟

لادورنر: د بهرنیو ځواکونو له بریدونو څخه وروسته افغانان د طالبانو د رژیم د نسکوریدو څخه خوشاله وو، خو د متحدینو غفلت په دې کې ؤ، چې دوی له هغو شخصی توپکسالارانو څخه وسله وانخیسته، چې له اتیایمې لسیزې راپدیخوا د قدرت خاوندان دي، نو همدا وجه وه چې خلکو د وخت په تیریدو سره نور په ناټو باور له لاسه ورکړ. خلاصه لوبه د طالبانو په ګټه ختمه شوه. افغانان د طالبانو له نسکوریدو څخه وروسته د یوه نوي پسرلي شاهدان وو، خو اوس ګوري چې هغه کسانو چې دوی یې شل کاله زورولي، بیاهم د دولت مشري کوي. دا ددې مأموریت ستره خطا وه.

شتاندرد. آت : ولې توپکسالاران خلع سلاح نشول؟

لادورنر: امریکایانو د القاعدې سره په جګړې کې دغو کسانو ته ضرورت درلود، خو زه وایم چې دا شان خلکو سره په ګډه کار د ډیموکراسی په هیله ناشونی ده. متحده ایالات به هیڅکله له دې تناقضه ځان ونه ژغوري. کوښښ شوی چې له ترهګرۍ سره په جګړې کې له داسې کسانو سره په ګډه کار وشي چې په کثافاتو کې غرق، د قانون پروا نلري او ډیموکراسي هم ورته کوم ارزښت نلري.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

شتاندرد. آت : اوسمهال د حامد کرزي حکومت تر کومه حده با ثباته بولئ؟
لادورنر: د غرب له مرستي څخه ماسوا به دا محاله وي چه دا حکومت په خپلو پښو ودريږي. داسي ګمان کيږي چي ډيري خلک په دي فکر کي دي، مخکي له دي چي بهرنيان په کال ۲۰۱۴ کي له افغانستان څخه ووځي او مخکي له دي چي ګډوډي پيل شي، دوی به ځنګه و توانيږي چي وروستی غوړه مړی يانی وروستی ډيري پيسي چي د دولت خزاني ته راپمپ شي، خپله کړي.
شتاندرد. آت : اداری فساد په افغانستان کي ځنګه او په کوم حد کي دئ؟
لادورنر: اداری فساد په ټولو برخو کي ليدل کيږي، له يوه کوچني پوليس څخه نيولي تر دولتي چارواکو ټول په فساد کي راګير دي. کله چي د دولت له يوه استازي سره لمړی تماس هم نيسي، نو د پسيو ورکولو ته ضرورت شته، همدا وجه ده چي خلک ټل د دولت د مأمورينو له خوا د خپل مال دغلا احساس کوي. د طالبانو د حکومت په وخت کي نسبتاً روښانه قوانين وو او امنيت هم په نسبی توګه ښه ؤ، خو نن يوه ګډوډي حاکمه ده، هيڅوګ نه پوهيږي چي کوم قوانين د تطبيق وړ دي، خلاصه دا چي خلک د طالبانو د وخت استبداد ته نسبت دې حاکمي ګډوډی ته ترجيح ورکوي.
شتاندرد. آت : د بشري مرستو تنظيم ځنګه دئ؟
لادورنر: دا سيمي تر سيمي پوري توپير لري، په جنوبي سيمو کي جګړه روانه ده، نوري سيمي نسبتاً آرامه دي. هرات په غرب او مزار شريف هم په شمال کي د پرمختللو ښارونو څخه شميرل کيږي، خو کله چي په موټر کي څو ساعته له دغو ښارونو څخه ليري شي، نو بيا د سيمي امنيت خرابيږي او د بی ثباتی احساس کيږي. همداراز د قحطی او وچکالی راپورونه هم رارسيږي، کومو سره چي دا هيواد له ديرشو کلونو راپديخوا لاس او ګريوان دئ. سربيره ددې دا هيواد دکډوالو له ستونزو سره هم مخامخ دئ، په کابل کي په وروستيو کلونو کي د دې ښار د اوسيدونکو شميره له ۹۰۰۰۰۰ څخه ۴،۵ مليونو ته اوچته شوې ده، دهمدې وجي څخه د ځښلو د اوبو او د خوراکي توکو چمتوکول يو درونډ کار دئ، ځکه تدارکاتی لاری د جګړي له کبله خرابي شوي دي، سره له دې هم دا کړکيچ له نورو سيمو له کړکيچونو سره لکه د سومالیی د کړکيچ سره د مقايسي وړ ندئ.
شتاندرد آت : دښځو په وضعيت کي د لسو کلونو په پرتله څه تغيرات راغلي؟
شتاندرد. آت : دې پوښتني ته ځواب آسانه ندئ، ځکه چي په افغانستان کي له ښځو سره خبري کول کوم آسان کار ندئ، خو زه ډاډمن يم چي ښځي دطالبانو د راتګ څخه ويريږي، سره له دې چي په طالبانو کي هم ځيني معتدل کسان شته چي ښوونځي ته د نجونو د تلو مخالف ندي. بوش ددې دپاره چي خپل بريد ته يو مشروعيت ورکړي، نو ديلمو په لټه کي ؤ او ده دښځو حالت په افغانستان کي هم دبريد يو دليل وباله. د ۲۰۰۱ کال څخه مخکي هم ځينو غير دولتی جوړښتونو د ښځو دحقونو په برخه کي لاسته راوړني درلودي، خو پوښتنه دلته ده چي دبهرنيو ځواکونو له وتلو وروسته به څومره غير دولتی جوړښتونه په افغانستان کي پاتي شي؟
شتاندرد. آت : د ناټو او متحده ايالاتو بيلانس په افغانستان کي وروسته له لس کلني جګړي نه ځنګه دئ؟
لادورنر: کوم امکانات چي د ناټو او متحده ايالاتو په اختيار کي وو، سرې کولای شي په زغرنده ووايي، چي نتيجه د قناعت وړ نده. دلته خورا ډيري پيسي او د ډيرو انسانانو ژوند تباه شو. افغانستان هغه توره سوړه ده ، چي دلته د بلع کيدو خطر ډير احساسيږي. شورويانو دا تجربه دلته و آزمويله، امريکايانو دلته په مليارډونو ډالر ولګول او په دې تورې سوړې کي يې ډير سرتيري له لاسه ورکړل.
شتاندرد. آت : که ناټو په بشپړه توګه په کال ۲۰۱۴ کي ووځي، نو په هغه حالت کي به افغانستان په کومي خوا روان شي؟
لادورنر: د تيارو او ويرونکو سناريوګانو احتمال ډير دئ. دلته څو احتماله شته ، لمړی دا چي د طالبانو حکومت به بيا د قدرت واګي په لاس کي واخلي، دوهم احتمال دا دئ چي لکه نويمي لسيزې به خپلمنځی جګړې بيا پيل شي. دريم دا چي د پوځي اډو په جوړولو به کورنی جګړه په يوه ټيټه سطحه کي ادامه ومومي. خلاصه دا چي د مثبتي سناريو انتظار نه ليدل کيږي.
شتاندرد. آت: ستاسو په آند څومره احتمال شته چي افغانستان په راتلونکو کلونو کي ديو مات خوړلي دولت "failed state" په لور ولاړ شي، يانی چيری چي دولت د حاکميت توان ونلري؟
لادورنر: ددې سناريو احتمال ډير قوی دئ، خو له ټولو مهمه پوښتنه به دا وي چي د غرب د ځواکونو د وتلو څخه وروسته به غربی نړی کوم خطر سره مخامخ وي که نه؟
په پای کي به د غرب تګلاره دا وي چي په افغانستان کي يو دولت منځ ته راولي چي له غربي نړی سره نسبتاً دوستانه اړيکي ولري او همداراز د پوځي حضور په مرسته غواړي چي وضعيت تر يوه حده با ثباته وساتي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ